# داسې واکمنان به (راشي) چې دروغ به وايي او ظلم به کوي، نو چا چې د دوی په دروغو باور وکړ او په ظلم کې يې ورسره مرسته وکړه هغه زما څخه نه دی، او زه له هغه څخه نه يم

له حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "داسې واکمنان به (راشي) چې دروغ به وايي او ظلم به کوي، نو چا چې د دوی په دروغو باور وکړ او په ظلم کې يې ورسره مرسته وکړه هغه زما څخه نه دی، او زه له هغه څخه نه يم، او په حوض کې به پر ما نه راځي، مګر څوک چې د دوی په دروغو باور ونکړي او په ظلم کې ورسره مرسته ونه کړي هغه زما څخه دی، او زه له هغه څخه يم، او د حوض سره به پر ما راشي".

[صحيح دی] [احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې د هغه له وفات نه وروسته به داسې واکمنان راشي چې په خبرو کې به دروغ وايي، هغه څه به وايي چې نه يې کوي، او په خپل قضاوت کې به ظالم وي، نو څوک چې ورغی او د دوی په دروغو يې باور وکړ، يا يې په ظلم کې د دوی ملاتړ وکړ او يا په وينا لکه چې د هغوی په ګټه يې فتوا ورکړه تر څو ورته ځان نږدې کړي، د هغه څه په تمه چې له هغوی سره دي؛ نو زه ترې بې زاره يم او زما څخه نه دی او د قيامت په ورځ به زما حوض کوثر ته را نشي، او څوک چې هغوی ته ور نشي او په دروغو کې يې ريښتيني ونه ګڼي او په ظلم کې يې ملاتړ ونه کړي نو هغه زما څخه دی او زه له هغه څخه يم، او د قيامت په ورځ به زما حوض ته راشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66197

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee